## د ۲۰۱۳ کال په لومړۍ نیمايي کې د ملکي تلفاتو شمیره زیاته شوې ده

**کابل، د ۲۰۱۳ کال د جولای ۳۱ نیټه:** د افغان ملکي وګړو شمیره چې د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې وژل شوي او یا هم ټپي شوي دي د کال د نیمایي د هغه وروستني راپور له مخې چې په افغانستان کې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي ( یوناما) له خوا چمتو شوی دی د تیر کال د همدغې مودې په پرتله ۲۳ سلنه پورته شوې ده.

په دغه راپور کې د ۲۰۱۳ کال په لومړۍ نیمایی کې یوناما د ۱۳۱۹ ملکي کسانو د وژنو او د ۲۵۳۳ کسانو د ټپي کیدنې چې ټول ۳۸۵۲ تنو ته رسیږي ارقام مستند کړي دي ، چې په کې د ۲۰۱۲ کال د همدغې مودې په پرتله په مړینو کې ۱۴ سلنه او ټپي کیدنو کې ۲۸ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.

د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو د شمیرې زیاتوالی د ۲۰۱۲ کال د ثبت شوي کمښت خخه په شاتګ دی ، او د ۲۰۱۱ کال د ثبت شوو ملکي وګړو د مړینو او ټپي کیدنو لوړو شمیرو ته بیرته ستنیدنه ښکاره کوي.

په راپور کې لیدل کیږي چې د ۲۰۱۳ کال په لومړۍ نیمایی کې د افغان ملکی وګړو د مړینې او ټپي کیدنې شمیره د دولت ضد عناصرو له خوا د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو او وسیلو د زیات کارولو له امله په تیره بیا په هغو ساحو کې چیرته چې ملکي کسان زیات اوسیږي او یاهم هلته تګ راتګ کوي رامنځته شوې ده، او همدارنګه د ملکیانو د تلفاتو زیاتوالی د هغو ځمکنیو نښتو له امله دی چې د افغانستان د امنیتي ځواکونو او د دولت ضد عناصرو ترمنځ صورت نیسی. دغه راپور همدارنګه دا هم مستنده کړې ده چې هغه زیاته شمیره کې ملکي تلفات چې د دولت ضد عناصرو ته منسوب دي، په هغو کې هغه موخه ییز بریدونه هم شامل دي چې د حکومتي ملکي کارمندانو پر ضد د هغې لوړې کچې تهدیدونو او ډارونو سربیره ترسره کیږي .

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازي او د یوناما د پلاوي مشر ښاغلي یان کوبیش وویل: " پرافغان ملکي وګړو د جګړې د تاو تریخوالي اغیزه په ۲۰۱۳ کال کې په ملکي تلفاتو کې د بیا زیاتوالی سره په جګړه کې د ښکیلو اړخونو څخه حتی د ډیرې زیاتې ژمنې او لا

زیاتو هلو ځلو غوښتنه کوي څو ملکي وګړي و ژغوري چې د متقابلو ډزو پر مهال په زیاته شمیره کې مړه او ټپي کیږي، " نوموړي زیاته کړه:" د دولت ضد عناصرو له خوا د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو/ وسیلو په بې توپیره توګه د کارولو زیاتوالی او په عمدي ډول د ملکیانو هدف ګرځول په ځانګړي ډول د اندیښنې وړ دي او باید چې و درول شي. "

په داسې حال کې چې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي چې د دولت ضد عناصرو له خوا کارول کیږي د ملکي تلفاتو د اساسي لامل په توګه پاتې دی، د افغان امنیتي ځواکونو او د دولت ضد عناصرو ترمنځ ځمکنۍ نښتې د ملکي مړینو او ټپي کیدنو د بل ستر لامل په توګه رامنځته شوی دی- دا هغه نوی جریان دی چې افغان ماشومانو، ښځو او نارینه وو ته یو زیاتیدونکی ګواښ او تهدید ګڼل کیږي.

د یوناما د بشري حقونو د څانګې مشرې جیورجیت ګینان وویل:" په ۲۰۱۳ کال کې د افغان ښځو او ماشومانو مړینه او ټپي کیدنه په ځانګړي ډول خواشینونکې ده"  نوموړې زیاته کړه: " د ۲۰۱۳ کال په لومړۍ نیمایی کې د ښځو او ماشومانو د مړینې او ټپي کیدنې شمیره ۳۸ سلنه زیاته شوې ده چې دا نن ورځ په افغانستان کې د جګړې  د خورا ناوړه واقعیت ښکارندوي ده."

د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ د لومړۍ نیټې څخه د جون تر ۳۰ نیټې پورې یوناما دښځو او ماشومانو ۳۳۷ مړینې او ۷۷۰ ټپي کیدنې مستندې کړې دي.

په همدغه موده کې د راپور د میندنو له مخې د دولت ضد عناصر د ملکي تلفاتو د ۷۴ سلنې ، دولت پلوه ځواکونه د نهه سلنې لپاره مسوول دي، د ۱۲ سلنې تلفات د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ د ځمکنیو نښتو له امله دي چې کوم خاص اړخ ته یې مسوولیت نه دی راجع او پاتې پنځه سلنه هغه تلفات دي چې زیاتره د ناچاودو توکو د چاودنې په پایله کې راغلي دي.

په راپور کې راغلي دي چې د ۲۰۱۳ کال په لومړۍ نیمایی کې ۱۰۳۸ ملکي مړینې او ۱۸۲۵ ملکي ټپي کیدنې ( ټول ۲۸۶۳ ملکي تلفات) د دولت ضد عناصرو ته منسوب دي، چې د ۲۰۱۲ کال د همدغې مودې په پرتله ۱۶ سلنه زیاتوالي څرګندوي.

یوناما دا مستنده کړې ده چې ملکي وګړو  ۱۴۶ مړینې او ۲۱۶ ټپي کیدنې ( ۳۶۲ملکي تلفات) د دولت پلوه ځواکونو (د افغان ملي امنیتي ځواکونو او نړیوالو نظامی ځواکونو) له خوا رامنځته شوي دي چې دا ۱۶ سلنه په مړینو کې کموالي خو په ټپي کیدنو کې ۵۸ سلنه زیاتوالی څرګندوي ، دا د ۲۰۱۲ کال د همدغې مودې په پرتله په ملکي تلفاتو کې ۱۶ سلنه زیاتوالی دي چې د افغان

امنیتي ځواکونو له خوا را منځته کیږي. د ملکي تلفاتو د زیاتیدو اساسي لامل هغه ځمکنۍ نښتې دي چې نیغ په نیغه د دولت پلوه  نظامي ځواکونو په عملیاتو پورې تړاو مومي.

آغلې جیورجیت ګنیان په دې اړوند زیاتوي: " د ۲۰۱۳ کال په لومړۍ نیمایی کې د ملکي تلفاتو زیاتوالی د افغانستان خلکو ته یو وحشتناکه انځور وړاندې کوي او د دې زیاته اړتیا لیدل کیږې چې په نظامي عملیاتو کې ښکیل اړخونه په بشپړ ډول خپلو قانوني مکلفیتونه په پام کې ونیسي څو د ملکیانو ساتنه او د ملکي تلفاتو مخنیوی وکړي.  "

یوناما په وار وار هغه بریدونه غندلي دي چې په کې ملکي تلفات رامنځته کیږي او د هغو د سملاسي درولو غوښتنه یې کړې ده، د دې سربیره په دې ټینګار کوي چې بې توپیره او په موخه ییز ډول د ملکیانو هدف ګرځول د بشر پالنې د نړیوال قانون څخه سرغړونه ده او په جنګې جرمونو کې شمیرل کیدای شي.

د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ د لومړۍ نیټې څخه د جون تر ۳۰نیټې پورې د راپور نورې موندنې:

**ښځې**

- د جګړې اړوند تاو تریخوالي په پایله کې ۱۰۶ ښځې وژل شوي او ۲۴۱ ټپي شوي دي ( ټولټال ۳۴۷ تلفات)، د  ۲۰۱۲ کال څخه ۶۱ سلنه پورته، چې د دې لپاره اساسي لامل هغه ځمکنۍ نښتې دې چې د جګړې د اړخونو تر منځ شوي دي او ملکي تلفات یې راوستي دي.

**ماشومان**

- ۲۳۱ تنه ماشومان وژل شوي او ۵۲۹ ټپیان شوي ( ټولټال ۷۶۰ تلفات)، د تیر کال په پرتله ۳۰ سلنه زیاتوالی، د دې تلفاتو لپاره اساسي لامل د تعبیه شوو چاودیدنکو توکو ځاي پرځاي کول و چې ورسره  ځمکنۍ نښتې او  ناوچاودلي /  پریښودل شوي چاودیدنکي توکو یو ځای  دي.
- یوناما د تعبیه شوو چاودیدنکو توکو د بریدونو له امله د ماشومانو په وژنو او معیوبولو کې ۷۳ سلنه زیاتوالی چې په کې ۷۰ تنه ماشومان مړه او نور ۱۷۹ تنه ټپیان شوي ( ټولټال ۲۴۹ تنه) دي، مستند کړی دی.

**د دولت ضد عناصرو له خوا د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو کارول**

- په بې توپیراو نا قانونه توګه د دولت ضد عناصرو له خوا د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو کارول ملکیانو ته د جګړې اړوند ترټولو د ستر ګواښ او تهدید په توګه پاتې دی، چې د هغه له امله ۳۵ سلنه مړینې او ټپي کیدنې رامنځته کیږي. هغه ۴۴۳ تنه ملکیان چې د تعبیه

شوو چاودیدونکو توکو په وسیله وژل شوي او نور ۹۱۷ تنه ټپیان شوي دي ( ټولټال ۱۳۶۰ تلفات) د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۳۴ سلنه زیاتوالی دی.

- په هغو تاکتیکونوکې چې په کې د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو څخه کار اخیستل شوی په هغو کې ځانمرګي او کامپلکسي بریدونه شامل دي چې په کې ټول ۵۲ سلنه ملکي تلفات رامنځته شوي دي چې د یوناما له خوا ثبت شوي دي.

**د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي کسانو په نښه کول**

- هغه پیښې چې د دولت ضد عناصرو له خوا په عمدي ډول ملکی کسان په نښه کوي او وژني یې او فکر کیري چې د افغانستان د دولت څخه ملاتړ کوي ۲۶۲ پیښې دي چې ۳۱۲ کسان یې وژلي دي او ۱۳۱ نور یې ژوبل کړي دي . د دغو پیښو شمیر له ۲۰۱۲ څخه ۲۹ سلنه پورته شوی دی.
- د حکومت غړي او دولتي تاسیسات هم په خاص ډول تر هدف لاندې راغلي دي. یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د حکومتي ملکي کارمندانو، دولتي دفترونو، د ولسوالیو د دفترونو او نورو دولتي تاسیساتو په نښه کولو کې د ملکي کسانو د تلفاتو په شمیر کې ۷۶ سلنه زیاتوالی مستند کړی دی، چې ۱۱۴ کسه یې وژلي او ۳۲۵ تنه نور یې ژوبل کړي دي، (په ټولیز ډول ۴۳۸ تنه تلفات)، په ۱۰۳ بریدونو کې چې شوي دی یواځې په څلورو بریدونو کې چې د محکمو او قاضیانو او څارنوالیو د کارمندانو پرضد شوي دي ۵۷ تنه وژل شوي او ۱۴۵ تنه نور ژوبل شوي دي ( ټولټال ۲۰۲ تنه تلفات) ، چې په دې کې قاضیان، څارنوالان، د محکمو کارمندان او اداري کسان شامل دي. دغه بریدونه له هغه وروسته وشول چې طالبانو په عام ډول اعلان وکړ چې قاضیان او څارنوالان به په عمدي ډول په نښه کوي او وژني؛ طالبانو د دغو پیښو مسوولیت په خپله ویب پاڼه کې منلی دی.
- د دولت ضد عناصرو له خوا د ملایانو په وړاندې د تهدیدونو او بریدونو یوه نمونه. د ملګرو ملتونو هییت ۱۴ داسې پیښې ثابتې کړي دي چې په کې د عبادت کوونکي او عبادت ځایونه ( جوماتونه) په مستقیم ډول تهدید شوی او یا تر برید لاندې راغلي دي. په دې ترڅ کې اوه تنه ملکي کسان وژل شوي دي. بریدونو هغه مهال ملایان په نښه کړي دي چې د افغانستان د ملي امنیت د ځواکونو یا دهغو د وفات شوو کسانو په جنازه کې وو ، چې له دولت سره یې مرسته کوله.

**مځکنی جګړې:**

- د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو په منځ کې د مځکنیو جګړو له امله ۲۵ سلنه ملکی کسان تلف شوي دي، چې دغه شمیره د ۲۰۱۲کال په پرتله ۴۲ سلنه زیاتوالی

ښيي او په ټوليز ډول ۲۰۷ تنه وژل شوي او ۷۶۴ تنه ژوبل شوي دي ( په مجموعي ډول ۹۷۱ تنه تلفات).

**هوايي بريدونه / د دولت پلوه ځواکونو له خوا دېر پيلوټه الوتکو کارول**

- يوناما د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ۴۹ تنو ملکي وژنې او ۴۱ ژوبلې ( په ټوليز ډول ۹۰ تلفات) ثبتې کړي دي ، چې د هوايي بريدونو په ترځ کې را منځ ته شوي دي او د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۳۰٪ زياتوالی ښيي. ښځې او ماشومان د ملکي کسانو د تلفاتو ۵۴ سلنه جوړوي چې په هوايي بريدونو کې پيښ شوي دي .
- يوناما د هوايی بريدونو له امله په ملکي تلفاتو کې کموالی تثبيت کړی دی، خو په دې ډيره اندېښنه ښکاره کوي چې په دوو هوايي پيښو کې په غير متناسب ډول ملکي کسانو ته ډيره مرګ ژوبله واوښته، چې د کنړ د ولايت د شيګل په ولسوالۍ کې – يوه د فبرورۍ په ۶ او بله د اپريل په ۱۳ نيټه پيښې شوې - چې په نتيجه کې يې ۲۲ تنه ملکي کسان و وژل شول او ۱۰ تنه نور زخميان شول، د دوي زياتره يې ماشومان او ښځې وې.
- يوناما د ۱۵ ملکي کسانو مرګ او د۷ تنو ژوبليدل غندي چې په اوو جلا پيښو کې را منځته شوي دي، چيرې چې د ډرون د الوتکو په وسيله چې غوښتل يې د دولت ضد عناصر په نښه کړي ، پيښې شوي دي. يوناما د ډرون د الوتکو په کارولو کې چې هدفي وژنې کوي د شفافيت او احتساب نشتوالی په ګوته کړی دی، ځکه چې ملکي تلفات يې اړولي دي.

**د دولت پلوه ځواکونو له خوا د زيات ځواک کارول او د تا لاشی عملياتو**

- يوناما ۲۰ مرګوني ۲۲د ژوبلې پيښې تثبيت کړي دي (۴۲ملکي تلفات) چې د قوې د زياتې کارونې په اثر په ۲۳ جلا پيښو کې رامنځته شوي دي اود ۲۰۱۲ کال په پرتله ۵۶٪ زياتوالی ښيي.
- له ۲۰۰۹ کال څخه تر ۲۰۱۲ کال پورې په ملکي تلفاتو کې د تلفاتو شمير د دولت پلوه ځواکونو د تا لاشۍ په عملياتو کې کموالی څرګنديري چې ۱۷ تنه په کې مړه شوي او ۱۵ نور ژوبل شوي دي ( په ټوليز ډول ۳۲ تنه تلفات) او دا په ۲۴ جلا جلا پيښو کې دي.
- يو ناما د ملکي کسانو ۱۴ د مرګ پيښې او ۲۳ د ژوبلو قضيي ثبتې کړي دي چې په ۳۲ جلا جلا پيښو کې افغان محلي پوليس ته منسوبې دي، چې د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۶۱ سلنه زياتوالی څرکندوي.

**دوسله والو ډلو له خوا په بشري حقونو د تیري قضیي**

- یوناما ۱۹ پیښې ثبتې کړي دي چې د وسله والو ډلو له خوا په بشري حقونو د تیرى کولو موارد څرګندوي، دغه پیښې په اوو ملکي وژنو او دوو د ژوبلې په پیښو تمامې شوي دي. زیاتره دغه پیښې په هغو ځایونو کې ثبتې شوي دي چې وسله والې ډلې هلته ډیر ځواک او نفوذ لري، په خاص ډول د هیواد په شمالي، شمال شرقي او مرکزي لوړو برخو کې.

**د جګړې څخه پاتې شوي چاودیدونکي توکي**

- له جګړې څخه پاتې شوي چادیدونکي توکي په پرلپسې ډول د افغانانو لپاره، په ځانګړي ډول د ماشومانو لپاره د ژوند خطر جوړوي. یوناما ۳۴ ملکي وژنې او ۱۰۲ د ژوبلو پیښې ( په ټولیز ډول ۱۴۵ ملکي تلفات) ثبت کړي دي چې له جګړې څخه دپاتې شوي چاودیدونکي توکي ( اي ارډبلیو) له ا مله را منځته شوي دي او د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۵۳٪ زیاتوالی څرګندوي چې د قربانیانو ۷۹٪ ماشومان تشکیلوي. د جګړې څخه د پاتې شوو چاودیدونکو توکو له امله د تلفاتو زیاتوالی کې د ښکیلو خواوو تر منځ د مځکنیو جګړو له زیاتوالی سره چې ملکي تلفات یې لوړ کړي دي او له دې سره یوځای پیښ شوي چې د نړیوالو امنیتي ځواکونو له خوا د مرکزونو او بیسونو د تړلو کار چټک شوی او د دې اندیښنې یې را ولاړې کړي دي چې دغه تاسیسات له تړلو څخه وړاندې له چاودیدونکو توکو څخه په بشپړ ډول نه دي پاک شوي.

د افغان ملکي کسانو د تلفاتو شمیر چې د یوناما د ۲۰۱۳ کال د نیمایی راپور څخه انتخاب شوی چې په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه چمتو شوی دی:

" زما خور ماته ټیلیفون وکړ چې زموږ مور په ځانمرګي برید کې وژل شوې او خور مو ژوبله شوې ده . په دې ورځ زما مور او خور د غاښونو د ډاکټر کتنځي ته تللي وو. کله چې ټکسي د دفاع وزارت له څنګه تیریده ځانمرګې حمله وشوه . زما مور په هغه ځاي کې مړه شوه او خور مې سخته ژوبله شوه چې څلور ورځې په روغتون کې بستر وه . د دې په سرکې اوس هم د ښیښو ټوټې خښې دي او باید درملنه یې وشي. زما خور ښوونکې وه او مور مې د خیاطی په دکان کې کار کاوه چې له کورنی سره مرسته وکړي. زما پلار زوړ شوی او ناروغه دی . زما خور ډېره ډاره شوې ده او له ورته بریدونو څخه په ویره کې ده او نه غواړي چې نوره له کوره و وځي. زه نه پوهیږم چې څنګه دغه غم هېر کړم او له کورني بحران څخه ووځو. "

د یوې ښځې زوي چې مور یې په ځانمرګي برید کې و وژل شوه ، کابل، د ۲۰۱۳ کال د مارچ ۹ نیټه

" د سهار  لومړنیو ساعتونو کي د افغانِ ځواکونو او شورشیانو تر منځ جګړه پیل شوه . زما ۱۳ کلن زوی د ملي اردو په یوه ګولۍ ، چې زمور په کور ونښتله ، ووژل شو ، مخکې له هغه چې مړ شي ، ما هغه یوه خوندي ځای ته ورساوه ، که څه هم له ما څخه وینې بهیدلې په لارکې ما یو طالب جنګ کوونکی ولید، ما خپل زخمي زوی پر ځمکه کیښود  او دغه طالب ته مې پر مخ څپیړه ورکړه . طالبانو چې کله زه او زما زوي ولیدلو چې ژوبل شوي یو او جامې مو په وینو رنګیدلې دي ، نومور یې پریښودلو. کله چې زه خپل زوي ته را وګرځیدم، هغه د خپلو ټپونو له امله توان نه درلود او مړ شو. دا زما زوی زمونږ په منځ کې اوس نشته . زه نه پوهیږم چې مور افغانان ولې جزا وینو او نه پوهیږم چې دغه جګړې به ترڅو دوام ولري. زما بل ۱۶ کلن زوی ژوبل شوی دی. زما د ښځې مخ د ګولۍ په اثر وسوځیده او ژوبله ده. بله ګولۍ د یوه بزګر په کور په ناصر کلي کې ولګیدله او اووه کلنه لور یې ژوبله شوه. بله ګولۍ د یوه ملکي کس په کور د عیسی خیلو په کلي کې ولګیدله او درې کلن ماشوم یې زخمي شو چې بې سده شو. زه غواړم چې د ملي اردو دغه افسر چې د ملکي کسانو د کورونو د ویشتلو امر یې ورکړی دی تر تعقیب لاندې ونیول شي."

یو پلار چې زوي یې د افغان ملي اردو په ګولیو د کندز د ولایت د چهاردرې په ولسوالۍ کې د ۲۰۱۳کال د جون په ۴ نیټه مړ شو او بل زوي یې ژوبل شو.

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**